نور احمد اېمل

۲۰۱۶/۰۳/۱۴

د هلمند فرهنګي وضعيت

شلمه برخه

انځوريزي رسنۍ:

انځوريزي رسنۍ په هلمند او د افغانستان په ډېريو ولايتونو کي هم مهالي را منځ ته سوي دي.

د وخت حکومت دا هڅه کوله، چي خپل پيغام او د حکومت تګلاره تر اولسونو ورسوي، نو په مرکز کابل کي په ۱۳۶۱ ل ل. د افغانستان د ملي راډيو تلوېزون د عمومي رياست په چوکاټ کي د ولايتونو رياست رامنځ ته کړ او د لومړي ځل لپاره(کندهار، هرات، ننګرهار، غزني، فراه، بدخشان او پکتيا ولايتونو کي تلوېزوني خپروني پيل سوي، نو په همدي لړ کي په هلمند کي په ۱۳۶۵ ل ل. کال د لومړي ځل لپاره انځوريزي رسنۍ په فعاليت پيل وکړ.(۶-۱۹۶مخ)

په لومړي سر کي د ملي راډيو تلوېزون ثبت سوي تصويري خپروني به په مرکز کي ثبت او ټايپ کيدلي او په ولايتونو کي به بيا خپريدو لپاره ليږل کېدلي او د ولايتو ځيني مهمي موضوعګاني به په همدي ډول مرکز ته انتقالېدي. تر دې مودې لږ څه وروسته له مرکزه د خپرونو د ليږد له پاره يوه بله لاره رامنځ ته سوه، چي هغه د شمشاد په نوم يوه دستګاه وه، چي د شپې تر يوې بجې وروسته يې نورو ولايتونو ته (ريلي) کولی او په دوهمه شپه به نشرېدلې. په هلمند کي هم انځوريزي رسنۍ څه کم (۳۰) کلن تاريخ لري، خو اوس له نيکه مرغه په هلمند کي څلور سمه ايز ټلويزونونه فعاليت کوي او د عادي آنتن پر مټ تر لسو زيات نړيوال افغانۍ ټلوېزونونه موندل کيږي. اوس به د هلمند فعالي انځوريزي رسنۍ فعالېدو د نېټې ټولي پر له پسې معرفي کړو:

ملي ټلوېزون

په هلمند کي ملي تلويزون په ۱۳۶۵ل. کال کي خپل فعاليت پيل کړ او شپږ کاله يې په ابتدايي ډول، چي ډېرې خپروني له مرکز کابله ورته راليږل کېدلې نشرات درلودل او کله چي ډاکتر نجيب واک مخالفو ډلو ته ورکړ، د تلوېزون نشرات يې په ۱۳۷۱ل. کال کي بند سول، د مجاهدينو او طالبانو په حکومتي دوره کي د هلمند ټلويزون درګاه تړل سوې وه، خو له نيکه مرغه يو ځل بيا په ۱۳۸۲ل. کال يې بيا خپل نشرات پيل کړه، خو ياد نشرات تر ۱۳۸۷ل. کاله پوري له په ابتدايي بڼه وه. خو اوس مهال هلمند ټلويزون په ټولو تخنيکي وسايلو سمبال دی خپروني يې تر ډېره معياري بڼه لري، ياد ټلوېزون د سهار له شپږو د غرمې تر دولسو او بيا د ماخوستن له نهو بجو څخه نېولې د شپې تر يولسو بجو مسلسلي ديني، سياسي، پوهنيزي، بيا رغنيزي، تفريحي او ټولينزي خپروني لري، تر ۱۳۸۸ کال وړاندي ياد ټلوېزون يوازي څو ساعته خپروني درولودې په ۱۳۸۷ل. کال کي شپږ ساعته خپروني وې، خو په ۱۳۸۸ل. کال د هلمند ملي تلويزون خپروني له شپږ ساعه څخه اولسو ساعتونو ته پورته سوې او ترڅنګ يې د وخت د چارواکو له لوري د هلمند ملی تلويزون نوي ستېډيوګاني، تخنيکي اړين وسايل او د اړتيا وړ مناسبي کوټې پرانستي.

تر دې وړاندي هلمند ملي ټلوېزون شپږساعته خپروني در لودې، چي څلور ساعته يې د افغانستان د ملي راډيو ټلوېزون خپروني نشرولې او دوه ساعته يې خپل نشرات درلودل خو تر يا دې نېټې راوروسته اوس هلمند ټلويزون ۱۴ ساعته خپل خپروني لري او دوه ساعته د افغانستان د ملی راډيو ټلوېزون خپروني نشروي، هلمند ملي ټلوېزون دوې ستېډيوګاني لري، چي يوه يې د ژونديو خپرونو لپاره ځانګړې ده او دوهمه يې د ثبتي خپرونو لپاره جوړه سوې ده د هلمند ملي ټلوېزون د وخت په بېلابېلو پروانو کي رنګارنګ خپروني وړاندي کړي دي، چي د ځينو نومونه يې دلته يادوم:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

1. سهار په خير (دا اونيزه خپرونه ده)
2. پوهنه رڼا ده. (يوه علمي او پوهنيزه خپرونه ده)
3. ځواب لرئ؟ (يوه زده کړيزه خو تفريحي بڼه هم لري)
4. لوبي (د هلمند، هېواد، سيمي او او نړۍ سپورټي راپورونه خپروي)
5. د کوچينيان ذهني سيالۍ. (د ماشومانو لپاره ځانګړې خپرونه ده)
6. د پوليسو ځانګړې خپرونه (د هېواد ملي پوليسو ته ځانګړې ده د دوی کارنامې په کې انعکاسيږي.)
7. کوتک (يوه طنزيه خپرونه ده، چې تر ډېره نيوکې او سالم نقد ته ځانګړې ده)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ